# په مسکو او ترکیه کې د افغان سولې په اړه خبرې اترې

## د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز - کابل

څانگړی تحليل CSRS | شماره: 367

۲۸ حوت ۱۳۹۹ هـ ش /2021 18 March


ويبسايت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

لطفا نظريات و پيشنهادات خود را جهت انكشاف مطالب اين نشريه به اين آدرس ها با ما شريک سازيد:

ايميل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

# په مسکو او ترکیه کې د افغان سولې په اړه خبرې اترې



دوکتور مصباح الله عبدالباقي

د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز د علمي شورا رئيس

د افغانستان د جمهور رئيس محمد اشرف غني په نوم د امريکا د بهرنيو چارو د وزير د وروستي ليک د رسنيز کېدلو وروسته د افغانستان د سولې په اړه رواني خبرې اترې يو بل پړاو ته داخل شوې، د قطر په پلازمينه دوحه کې په ټپه ولاړو خبرو کې هغه وخت اوښتون رامنځته شو چې د امريکا متحده ايالاتو ددې اعلان وکړ چې دوی غواړي د ترکيې د حکومت څخه غوښتنه وکړي چې د افغانستان د سولې په اړه د يوې ناستې کوربه توب پر غاړه واخلي، ددې سره سم روسانو هم د افغاني ډلو په شمول د يو سيمه ييز کانفرانس اعلان وکړ، چې دا کانفرانس به غالبا د پنجشنبې په ورځ د ۱۳۹۹ کال د حوت د مياشتې په ۲۸ نېټه په مسکو کې جوړ شي، دې غونډو ته د افغانستان ولس په کومه سترګه ګوري؟ او د دې غونډو څخه څه توقعات لري؟ او په دې غونډو څه مرتب کيدلی شي؟ غواړو په دې اړه يو څه معروضات د لوستونکو سره شريک کړو.

لومړی: د يو مهذب ملت په حيث بايد داسې نه وای شوي، مګر.
مهذب ملتونه د ټولو اختلافاتو سره سره خپل ټول مسائل په خپلو کې د خبرو اترو له لارې حل کوي، او هيڅکله نه چا ته ددې اجازه ورکوي چې د هغوی په داخلي چارو کې څوک لاس وهنه وکړي، او نه خپل اختلافات داسې کچې ته رسوي چې په خپلو کې تفاهم ته سره و نه رسيدلی شي، مګر له بده مرغه په افغانستان کې د لسيزو راهيسې د سياسي قيادتونو د بې کفايتۍ او ځان غوښتنو له امله د افغانستان ملت همېشه فرصتونه له لاسه ورکړي دي، همېشه يې پر ديو برخليک ټاکلی دی، او همېشه پرې فيصلې مسلطې شوي دي، چې همېشه يې نتائج ناوړه او خراب راوتلي دي. اوس چې د افغانستان څخه د بهرنيو ځواکونو د وتلو د اعلان په پايله کې کوم فرصت برابر شوی وو هغه له لاسه ورکړی شو، او دې ته زمينه برابره شوه چې بيا د نړۍ هېوادونه زمونږ برخليک وټاکي او مونږ لپاره فيصلې وکړي، چې دا ډول فيصلې په عامه توګه د ملت مشکلات نه حل کوي، بلکې ډيرې نورې ستونزې ترې راولاړيږي. مګر د دې ټولو سره سره د دې ناستو څخه پرته بله چاره هم نشته،

ځکه چې له دې پرته، د خپل منځي توافق په نتيجه کې په لرې افق کې هم د افغانستان د کشالې د هوارې نښې نښانې نه ليدل کيږي، اوس سوال دا راولاړيږي چې د طالبانو او امريکا ترمنځ د تړون نه وروسته حالات ولې دې مرحلې ته ورسېدل؟ او په دوحه کې ولې نتائج ترلاسه نه شول؟

دويم: د دوحې خبرې اترې ولې بې پايله وې؟

په دوحه کې چې د خبرو اترو د کاميابۍ لپاره د اعتماد کومې فضاء اړتيا وه هغه رامنځته نه کړای شوه، بلکې په قصدي توګه د دې هڅه وشوه چې خبرې اترې پرمخ ولاړې نه شي، او په پرله پسې توګه د تعطل ښکار پاتې شي، او دا يوه پلان شوې استراتيجي وه، څو ورځې مخکې د ولسمشر د لومړي مرستيال سلاکار مولانا فريد د يو تلويزون سره په خبرو کې د امريکا د نوې طرحې په اړه د دولت د دريځ د څرګندولو په سياق کې وويل چې دا طرحه د کاغذ يوه پرزه ده، عملي کيدلی نه شي، لکه څرنګه مو چې د دوحې تړون (د طالبانو او امريکا ترمنځ تړون) ناکام کړ، او هېڅ نتيجه يې ورنه کړه همدا مصير به د دې طرحې هم وي. يعنې بالکل په صراحت سره دا وايي چې د دوحې تړون دوی ناکام کړی دی، او همدا راز د دې طرحې د ناکامولو اراده هم لري.

د دوحې د تړون د ناکامولو لپاره دوی په افغانستان کې داسې امنيتي حالات رامنځته کړل چې هېڅوک د سولې د راوستلو لپاره د فشار څخه کار وا نه اخيستلی شي، هيڅوک د انفجاراتو له ويرې مظاهرې او لاريونونه را ونه ايستلی شي، د سولې په تړاو لوی او مؤثرې غونډې ونه کړی شي، د سياسي جهتونو ترمنځ انسجام رامنځته نه شي. او هر کله چې د انسجام د رامنځته کېدولو چانسونه پيدا شوي هغه يې د يو او بل په مرسته له منځه وړي دي، او کومو خلکو چې په انفرادي ډول د مؤثرو شخصيتونو په توګه د سولې لپاره هلې ځلې کولې هغوی په پرله پسې توګه خپل ژوند له لاسه ورکړ، او يا هم د تهديد لاندې پاتې شوي چې د خپلو هلو ځلو لاس څخه په سر شي.

خو اوس سوال دا راولاړيږي چې حکومت دا کار ولې وکړ؟ په دې اړه بايد ووايو چې په عامه توګه د افغانستان د حکومت رهبري ټيم داسې انګېرله چې د نوې امريکايي ادارې چې جوبايډن به يې په سر کې قرار لري د دوحې په تړون بيا له سره کتنه وکړي، او په عين وخت کې به د زلمي خليل زاد رول هم په دې پروسه کې له منځه ولاړ شي، هغه چې د جمهوريت غوښتونکو د حزب غړی دی او د امريکا له لوري د سولې د پروسې طرحه کوونکی او مغز متفکر او په دې پروسه کې تر ټولو مؤثر شخص دی. په دې توګه به پر دوی فشار را کم شي، او د راتلونکو کلونو لپاره به دوی د چارو واګې په خپل لاس کې وساتي. لږ تر لږه به خپله پينځه کلنه دوره پوره کړي، په دې موده کې به يا طالبان د خپل تعريف سره برابرې سولې ته مجبور کړي چې هغه د حزب اسلامي په څېر په حکومت کې د ادغام څخه پرته بل څه نه دي، او يا به هم جګړه ادامه پيدا کوي او امريکا به مجبوروي چې په افغانستان کې د دوی د دفاع په خاطر د اوږدې مودې لپاره پاتې شي، او ددې لپاره چې امريکا په افغانستان کې پاتې کېدلو ته اړ کړي د تاو تريخوالي کچه ډېره لوړه کړای شوه. د شپنيو عملياتو، بمباريو، د ځانګړو ځواکونو د چاپو لړۍ شدت پيدا کړ چې تر اوسه پورې ادامه لري. او دا ټول په دې خاطر چې نړيوالو ته وښايي چې په افغانستان کې تر اوسه د تروريزم خطر موجود دی او نړۍ بايد په افغانستان کې پاتې شي.

د فعلي حکومت د رهبري ټیم غړي دا هلې ځلې په داسې وخت کې کولی، چې د ملت د قاطع اکثریت په نظر دې حکومت خپل ټول مقومات او د بقاء مبررات له لاسه ورکړي دي، ځکه دلته فساد خپل اوج ته رسېدلی دی، په دولتي ادارو بې کفایته، بې استعداده خلک مسلط دي، دولتي هغه مسؤولیتونه او منصبونه چې د خدمت وسیله ده خرڅیږي، د فقر کچه ورځ تر بلې لوړیږي، د افغانستان ۷۰٪ وګړي د فقر د لیکې لاندې ژوند کوي، د افغانستان سرمایه غلا کېږي او بېرون ته وړل کیږي. د نړیوالو او سیمه ییزو هېوادونو د استخباراتي فعالیتونو په نتیجه کې هېڅوک خپل ځان محفوظ نه ګڼي. ګڼ شمېر علماء، مدني فعالان، استاذان، سیاسي شخصیتونه یا وژل کیږي او یا هم د خپل ځان د حفاظت لپاره ځان پټوي او یا هېواد پرېښودلو ته اړ کېږي.

خو د افغانستان د حکومت رهبري ټیم په دې محاسبه کې تېروته، او غافل ګیره شو، ځکه چې نه د جوبایډن په قیادت کې د امریکا نوې ادارې د خپلو ځواکونو د ایستلو په اړه پر خپلې فیصلې بیا کتنه وکړه، او نه هم د زلمي خلیل زاد رول په قضیه کې له منځه ولاړ، بلکې دا رول لا تقویه شو، او شاید دا له دې امله وي چې د مؤسساتو پر بنسټ ولاړو هېوادونو کې دا ډول استراتیژیکې فیصلې د اشخاصو پر ځای د مؤسساتو فیصلې وي، او د دقیقو محاسبو وروسته سرته رسیږي، چې د حکومتونو او اشخاصو بدلېدل را بدلېدل پرې کوم اغېز نه لري.

له بل پلوه طالب جنګیالیو هم د دې لپاره چې د خبرو اترو پر میز یې دریځ قوي وي، او په راتلونکي نظام کې تر ټولو ستره ونډه ولري خپلو عملیاتو ته ادامه ورکړه، سره له دې چې د بهرنیو ځواکونو (د امریکا او ناټو ځواکونو) سره یې بشپړ اوربند درلود، هغوی په دې تېر یو کال کې د طالبانو د هېڅ ډول حملې لاندې نه دي راغلي مګر د افغاني ځواکونو پر ضد یې خپل عملیات پراخه کړل او شدت یې پکې راوست، په ښارونو کې یې خپلو حملو او عملیاتو ته ادامه ورکړه چې په نتیجه کې یې بې شمېره افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د دې غیر عاقلانه دریځونو په نتیجه کې ملت داسې حالت ته ورسېده چې سوله یې یو حیاتي اړتیا او ضرورت وګرځېده، او دا ورته د ژوند او مرګ قضیه شوه، د ملت او هېواد په درد دردمند خلک داسې انګیري چې که دا قضیه د میز پر سره د خبرو اترو له لارې حل نه شي، او دواړه جنګي ډلې د عقل اواز ته لبیک ونه وایي نو هېواد یو بل ناورین سره مخ کېدی شي، یو بل کورنی جنګ پیل کېدلی شي، چې په نتیجه کې به یې شته ټول بنسټونه له منځه ولاړ شي، او په هیواد کې به د بې نظمۍ او بدحالۍ یوه نه ختمېدونکي لړۍ پیل شي، په داسې وخت کې امریکا د همېش په څیر د یو ژغورونکي ځواک په حیث رامنځته شوه، او د بین الافغاني خبرو اترو د ژغورلو لپاره یې نوې طرحه وړاندې کړه. که د امریکا دولت غوښتلی چې واقعا افغانان په خپلو کې یوې نتیجې ته ورسیږي نو دا کار یې د فشارونو په نتیجه کې کولی شو، مګر دا کار یې د دې لپاره ونه کړ تر څو حالات همداسې یو حالت ته ورسیږي، او په هغه وخت کې چې د جوړ جاړي کومه طرحه د دوی له پلوه وړاندې کېږي د هغه په منلو کې به هیڅا ته تردد نه وي.

## د مسکو ناسته

سره له دې چې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر په لیک کې د ترکیې د حکومت څخه نړیوالو او سیمه ییزو هېوادونو په شمول د افغانانو د یوې ګډې ناستې د کوربه توب غوښتنه شوې وه، خو ددې لپاره چې مسکو په سیمه ییزو او نړیوالو قضایاوو کې خپل سیاسي نفوذ ساتلی وي، د ترکیې د ناستې څخه دمخه یې د یوې ګډې ناستې ترتیبات ونیول چې د ۲۰۲۱ کال د مارچ د میاشتې په ۱۸ نېټه به سرته ورسیږي، او د حکومت په شمول به د افغانستان ګڼ شمیر سیاسي ډلې او شخصیتونه په کې ګډون وکړي.

## د مسکو او ترکیې د ناستو څخه د ملت توقعات او غوښتنې

ددې ګډو ناستو څخه د افغانستان ملت یو لړ توقعات او غوښتنې لري، چې ددې ناستو په نتیجه کې باید تر سره شي، ځکه دا اوسنی حالت د خلکو د تحمل څخه لوړ دی، حالات داسې لوري ته روان دي چې که دې ته د پای ټکی کېښودل شي نو افغانستان یو بل کورني جنګ ته تللی شي، اداري او موجوده سیستمونه له منځه تللی شي، دا توقعات او غوښتنې په لنډه توګه دا لاندې دي:

لومړی: دا ناستې باید نتیجه ورکړي، او هم هلته باید ټول قضایا حل او فصل شي، او د جنګ د استمرار لاملونه له منځه ولاړ شي، ځکه که قضیه بیا دواړو جنګي اړخونو ته وسپارل شوه، دوی بیا د ملت په سرنوشت لوبې کوي، او نه غواړي قضیه د خبرو اترو له لارې حل شي.

دویم: هلته باید داسې یوه اداره/ موقت حکومت رامنځته شي چې د اعتماد فضاء رامنځته کړي، تر څو چې د اعتماد فضاء رامنځته نه شي جنګ ته د پای ټکی ایښودل ممکن نه دي.

درییم: د جنګ دواړه اړخونه او ورسره نورې سیاسي ډلې د خپلو ډلو او اشخاصو د ګټو د ساتلو پر ځای د افغانستان او د ملت د ګټو د ساتلو په فکر کې شي، ځکه د اشخاصو او ډلو ګټې، دریځونه سره لرې کوي، او د هېواد او ملت د ګټو رعایت، دریځونه سره رانږدې کوي.

څلورم: په روغې جوړې کې باید دا کوښښ و نه شي چې یوه ډله یا بله ډله د واک د محور څخه لرې پاتې کړی شي، ځکه دا ناکامه تجربه د بن په کانفرانس کې تکرار شوې وه چې نتائج یې ډېر خطرناک وو.

پینځم: په افغانستان کې باید فوري اوربند صورت ونیسي، د جنګي ډلو له پلوه باید هېڅ یوه مرمۍ هم فایر نه شي، ځکه سوله او جنګ دوه متناقض شیان دي.

شپږم: د دې تعهد باید واخیستل شي چې په دې روغې جوړې کې د فاتح او مفتوح تصور باید له منځه یوړل شي، ځکه که د طالبانو دا تصور وي چې هغه د فاتح په حیث لویو ښارونو ته را دننه کېږي نو ددې معنی به دا وي چې ټولې اداري او بنسټونه له منځه ولاړ شي، او هغه حالت تکرار شي چې په نوي یمه لسیزه کې کابل ته

د مجاهدینو د راتګ په وخت کې رامنځته شوی وو، او دا به د افغانستان لپاره د یو لوی ناورین څخه کم نه وي.

اووم: د سیمې هېوادونه باید تعهد وکړي چې د افغانستان په چارو کې به لاسوهنه نه کوي.

اتم: نړیواله ټولنه باید د دې ژمنه وکړي چې اقلاً تر هغه وخت پورې به د نوي رامنځته شوي موقت حکومت سره به خپلو مالي همکاریو ته ادامه ورکوي چې د نوي اساسي قانون پر بنسټ نوی منتخب حکومت نه وي رامنځته شوی، ځکه که دا همکاري نه وي مؤقته اداره خپلو دندو ته ادامه نه شي ورکولی.

که دا غوښتنې عملي شي نو دا ناستې به نتیجه ورکړي، او زموږ توقع د افغانستان د سیاسي قیادتونو څخه همدا ده چې په ډېر احتیاط سره د دې فرصت څخه د هېواد او ملت په ګټه استفاده وکړي، که داسې یې ونه کړل په تاریخ کې به مخ توري او ملت ته به شرمیدلي وي.

---

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز یو غیرانتفاعي، غیرحکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې تاسیس شوی دی. مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو ارزولو او د هغو د پراختیا لپاره فعالیت کوي. د مرکز یوه موخه دا هم ده، چې د نویو څېړنو او پالیسیو ترمنځ داسې ارتباط قایم شي، چې په پایله کې د هېواد په کچه ټولې پالیسۍ په مطالعې ولاړو اکاډمیکو اصولو برابرې شي.

www.csrskabul.com